څوک چې غيب ويونکي ته لاړ شي او له هغه څخه د يو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلويښتو شپو لمونځ يې نه قبليږي

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ځينو مېرمنو څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې غيب ويونکي ته لاړ شي او له هغه څخه د يو څه په اړه پوښتنه وکړي، د څلويښتو شپو لمونځ يې نه قبليږي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم غيب ويونکي ته له ورتګ څخه خبردارى ورکوي، او عراف : د غيب ويونکي، نجومي، په شګو کې خطونه کښونکى او داسې نورو کسانو ته وييل کيږي چې په غيبو د پوهېدلو لپاره پورته شيان کاروي - او کله چې څوک له دوى څخه يوازې پوښتنه وکړي (پرته لدې چې باور پرې وکړي) نو پوښتونکى به الله جل جلاله د څلويښتو ورځو لپاره د هغه د لمانځه له ثواب څخه محروم کړي او دا د هغه لپاره د دې لويې ګناه د کولو سزا ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5986